


# ادبي ژور اندی سرلاری او د ناپېيلي شعر انځورګر

اروابناد علامه محمود طرزي وايي :

(یو اولس په ژبه او ژبه په ادبیاتو ژوندی پاتې کیږي....)

د علامه صاحب د خبرو پر لاسوند په ربنتيا سره چې ژبه او ادب د هر ملت یوه لويه شتمني ده، او ډيرګټور او ارزښتمن ميراث دی، چې بايد زموږ هيوادوال د يو ښکلي او لاربنوونکي هنري اثر په توګه لکه

يوغوړيدلی او زرغون بڼ ورته هميشنۍ پاملرنه وکړي، تازه او ښېرازه يې وساتي.

په پښتو ژبه او ادب کې نثر د نورو ادبي ژانرونو تر څنګ يوه غوره، مهمه او ضروري برخه ده. د ژبې پايښت، پرمختګ او پراختيا، د هنري، علمي او ملي فکر لارې چارې او ځواک، د روزنې پالنې او د ټولنيز شعور، اصلاحي او تنقيدي اړخونو موخه په نثر کې نغښتی ده.

نثر هغه غوړيدلی ګل او بله ډيوه ده، چې پر خپلو وړانګو، پلوشو او وږمو يې د پښتو ادب لمن روښانه، ځلانده او توده ساتلی ده.

خدای بخښلی اروابناد محمد دين ژواک هغه وطنپال، فرهنګپال او ملي شخصيت ، نوښتګراديب، ژورناليست ، محقق، څيړونکې ، سياست پوه، او د پښتو ادب او فولکلور په برخه کې، خوږ ژبی، دروند، پوخ او پيژندل شوی ليکوال وو، چې د خپل ځواکمن قلم او فکر په وسيله او د خپلو ګټورو او ارزښتناکو منظومو او منثورو اثارو له لارې يې زموږ د علم او ادب ډيوې روښانه او ځلانده ساتلې دي او د خپلې ملي ژبې د پرمختيا، پراختيا او دودتيا لپاره يې د پام وړ او اوچت ګامونه پورته کړې دي.

استاد محمد دين ژواک د اروابناد غلام محی الدين خان زوی دی چې پر ۱۲۹۵ لمريز کال کې د کندهارولايت د ډنډ په ولسوالۍ د روه رباط په کلي کې زيږيدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې په خصوصي ډول سرته رسولي دي. په کندهار کې يې د دارالمعلمين د مستعجل کورس تر لوستلو وروسته پر ۱۳۱۶ لمريز کال کې د ډنډ ولسوالۍ په ښوونځي کې د ښوونکي دنده لرله. پر ۱۳۱۸ لمريز کال کې کابل ته ولاړو او هلته يې د نجات يا اوسنۍ اماني لېسه کې د ادبياتو ښوونکی وګمارل شو. پر ۱۳۲۶ لمريز کال کې د ملي دفاع وزارت د پښتو ژبې سرمفتش وټاکل شو او پر ۱۳۳۰ لمريز کال کې د پښتو ټولني يا اوس د

افغانستان د علومو اکاډمۍ د ( زیري ) اخبار مرستیال په توګه وټاکل شو. پر ۱۳۳۱ لمریز کال کې په دغه ټولنه کې د پښتو قواعدو د صرف و نحوې د څانګې مدیر شو او پر ۱۳۳۲ لمریز کال کې د ادبیاتو د مدیریت دنده ور په غاړې شوه. پر ۱۳۳۴ لمریز کال کې د کابل مجلې مسُوول وټاکل شو او هم یې بیا د پښتو ټولنې د مسلکي غړي په توګه کار کاوه. استاد محمد دین ژواک په همدغو کلونو کې د زیري جریدې د مدیر په توګه هم وټاکل شو او کابو لس کاله یې د دې جریدې مسوولیت پرغاړه وو. او پر ۱۳۵۲ لمریز کال کې د دغې جریدې مدیر مسوول وو چې متقاعد شو. ده د ویښو زلمیانو په غورځنګ کې کارنده ونډه لرله. اروابناد محمد دین ژواک په پښتو ټولنه کې د کار تر څنګه له راډیو افغانستان سره هم همکاري درلوده او د راډیو په تعلیمي پروګرامونو کې یې برخه اخیسته. استاد ژواک هغه هڅاند، تاند او غښتلی شخصیت وو چې د شپېتمو کلونو په جریان کې بیا د اویایمو پورې د کابل د مرکزي اخبارونو، د راډیو افغانستان د ځوانانو له خپرونې، د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خپرونو، د هنرمندوانو د اتحادیې او د قومونو او قبایلو وزارت له خپرونو سره فعاله همکاري درلوده.

دا یو څرګند حقیقت دی، چې د یو لیکوال ، ادیب، شاعر، محقق، ادبي، فرهنګي، سیاسي او تاریخي شخصیت، د دوی په آثارو کې او د دوی په څېړنو کې لټولی او موندلی شوُ.

اروابناد استاد محمد دین ژواک هم یو شمېرعلمي، تاریخي، ادبي او فرهنګي اثار لیکلي دي چې د ده اغېزمن اثار زموږ د ملي ادب د ښکلا او غنا یوه ارزښتمنه پانګه ده. دا ګټور اثار دا دي :

ویراوتصویر، افغاني حماسه ، پښتني سندرې لومړی ټوک، پرونۍ هینداره ( داستاني نثرونه)، پښتومتلونه، پښتو نثرونه، شمع فروزان (د

دري ژبې هنري آثارو يوه مجموعه)، رمزو راز د ادبي توټو مجموعه، افغاني حماسه (د پښتو منثورو ټوټو يوه مجموعه)، د افغاني موسيقي كتاب، د پښتو لوست كتاب د څلورمو ټولګيو لپاره او داسی نورې ليكنې او ځينې نا چاپ اثار....

اروابناد ژواک صاحب ډېر لږ شعرونه ليكل چې څو ټوټې يې په كابل مجله، اوسنی ليكوالو او ځينو نورو خپرونو كې نشر شوې دي.

اروابناد استاد محمد دين ژواک خپل زياتره عمر د ادبي او فرهنګي آثارو په تدريس، ليكلو، خپرولو او څېړنو كې تېر كړې دی . د ده په آثارو كې زياتره فولكلوري كيسې، لنډ داستانونه او افسانې، ادبي پارچې او يو شمېر په زړه پورې شعرونه نغښتې دي . ده د پښتو لنډيو، متلونو اوافغاني سندرو او آهنګونو د پيژندنې په برخه كې ډيرې زياتې هلې ځلې كړې دي، چې د ده دا هلې ځلې د پښتوادب د پراختيا او پرمختيا لپاره د ستاينې او درنښت وړ دي . دی په خپلو ليكنوكې يو ځانګړی سبک لري، چې د ده سبک د يو شمير كورنيو او بهرنيوڅيړونكو له خوا چې د پښتو ادب په تړاو يې څيړنې كړې دي په ډير عالي كچه ستايل شوې دی.

د اروابناد ژواک صاحب له ليكنو، ادبي نثرونو، او افكارو سره د علم او ادب مينه وال اشنا دي. ده نه يوازې په پښتو ژبې خو په دري (فارسي) ژبې هم ليكنې كښلې دي. دی هغه پوخ او تكړه ليكوال دی چې د ده ليكنې د پښتو د ادبي نثرونو په څېړنه كې يوه ګټوره او ارزښتناكه شتمني ده. ده د ادبي نثرونو تر څنګ د پښتو ژبې د ودې او پرمختګ لپاره د پښتو ژبپوهنې او ګرامر پوهنې په برخه كې او همدا ډول د فلكلور او فلكلور پوهنې په تړاو د پام وړ هاندو وهڅې تر سره كړيدي. د دغو زيار او هڅو له لارې يې څېړنملۍ علمي او اكاډيميک لقب ترلاسه كړې دی. دی يو پوخ ادبي نثرليكونكی وو، او په ادبي

نثرونو کې د تصویر نګارۍ په فن کې د ځانګړي نوښت او مهارت خاوند وو.

اروښاد ژواک صاحب په خپلو ګڼورو او اغیزمنو اثاروکې زموږ په جګړه ځپلي ، کړیدلي او ځوریدلي هیواد کې د لوټمارو، تالنګرو، ظالمانو او زور واکو تورې او کرغیړنې ځیرې، او د ټولنیز ژوند ناخوالې، ستونزې، دردونه او کړاوونه، د رنځیدلو او ځوریدلو هیوادوالو اتلولي او میړانه او همداسې د افغانانو په منځ کې د یو شمیر نورو زړه بوږنوونکو پیښو تصویرونه په ډیرو ښکلو فکرونو، خیالونو، او سیمبولونو کې په ډیره ظریفانه بڼه انځور کړي دي.

د استاد ژواک صاحب اغېزمن او ګڼور منظوم او منثور اثار د اوسنیو او راتلونکو نسلونو او ځوانانو په روزنه، پالنه او لارښوونه کې خورا زیات ارزښت لري ، همدا وجه ده چې نوموړی د لیکوالو او ادیبانو په ډله کې یو ځانګړې ځای او لوړ پوړی لري.

خدای بخښلی استاد ژواک درونډ، مهربان، مینه ناک، پاک او سپیڅلې انسان، زړه سواندی، با وقاره، د لوی زغم او سپیڅلي احساس خاوند او خوا خوږې انسان وو. ده له خپلو دوستانو او یارانو سره ډیره مینه لرله، او په ځانګړي توګه ده د ځوانانو د استعدادونو د روزنې او پالنې لپاره زیاته پاملرنه کوله. ژواک صیب د پښتو ژبې د ودې لپاره ډیر هنري اوفرهنګي خدمتونه کړې دي، او په ډیرو علمي سیمینارونو، ادبي او فرهنګي غونډو کې د هیواد د ننه او بهرفعاله ونډه اخیستي ده.

استاد ژواک هغه ملي او وطني شخصیت وو چې د ټولو وطنپالو او رښتینو سیاسي جریانونو په څنګ کې د خپلو هیوادوالو د ملي یووالي اتحاد او اتفاق او د ټولنیزاو اقتصادي پرمختګ او پراختیا او د افغان ملت د فرهنګي او تاریخي ویاړونو د ساتنې لپاره کلکه مبارزه کړیده.

استاد ژواک صاحب دهیواد پر آزادئ او خپلواکئ مین وو او بشپړه عقیده يې لرله، چې د افغانانو ګډ کورخپله افغانان جوړولای شي او دا حق باید هیڅ پردي او باندني ځواک ته ورنکړل شي.

استاد ژواک پر ۱۳۵۲ لمریز کال کې له خپل قانوني عمر څخه مخکې تقاعد وکړ. ده د خپل ژوند تر وروستیو شیبو پورې په خپل هیواد کې د ننه او د باندې د لیکلو څخه لاس وانخیست.

خدای بخښلی استاد ژواک پر ۱۳۷۶ لمریز کال چې د ۱۹۹۷ زیږدیز کال سره سمون خوري د اګست پر اوولسمه په آلمان کې د زړه د ناروغئ له کبله سترګې پټې کړې.

اروابناد ژواک صیب د خپل ژوند په ورستیو کلونو کې د رمزاو راز اثر دوهمه برخه بشپړه او ولیکله، چې د دغی کتاب څخه مو یوه ادبي ټوټه د ( توریې بلبلې) په نامه غوره کړې ده تاسو ته يې وړاندې کوم.

تورې بلبلې!

اې زما د ارمانونو پارو ونکې!

ته د خوژو کې آواز په وربښمینه حنجره کښې څومره په پټ رمز سره د ننګرهار د بهارونو د عطرونو د کاروان مخه زما د یاد لوري ته رابولې!

تورې بلبې! اې چې د آلمان د بنزهایم د ښار په روغتون د ګلونو د بوراګانو د لالهانده ورځې احوال نیسې.

اې چې د ابابیل برکتناک اثر دې په زاریو کښې نغښتی دی.

توري بلبلې! هغه يادونه راپاروې چې د ځان غوښتونکي په ملعوني خيل نن د کور کعبه نړوي.

دوی نه پوهېږي چې د لوی عرش جوړوونکي ستا رنګه توري بلبلې په رنګ د ابابيل د ساتنې په لښکر دا د مولا کور ساتي خو ته زما د مينې ياد راپاروې.

يادونه د ننګرهار د هر وخت بهار يادونه!!

توري بلبلې! پوهېږم چې هر سهار د ګلونو د منځ په مانۍ کښې توري بوراګاني تخنوې او ويښوې چې د وړانګو زرين سهارنی ځنځير نور د تيارې د شپې سره نه شي پاتې او د رڼا مينان يې په ليدلو ونازول شي د ژړي لمر د وړانګو زرين طلايي ځنځيرونه هغه چې د شپو عطرونه يې د شپې د ببر سرې په تورو کوڅيو کښې لېونتوب ځان سنبالوي هو! هلته چې د ژړو نارنجو سپينکي ګلان يې د عطرونو سترګک وهلو ته ځان جوړوي خو ستا رازګير کې اواز هغه خواږه يادونه رايادوي.
چېرې؟ د بنز هايم د روغتون په وړوکې باغچه کښې !!

اروا يې ښاده او وياړلی ياد يې تلپاتې غواړم.

په ډېر درنښت او ادبي مينه : انجنير عبدالقادرمسعود